پښتو ژباړه: رحمت آریا ۲۰۲۴/۰۳/۱۱

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۴۸ مه پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سویل – ختیځ

ایډیټ:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

**کودي خیل:** ۱۴ – ۳۴، ۵۷ – ۶۹ «ن»: دا د خوګیانیو په سیمې کې د ګندمک د سویل په ۸ مایلۍ کې یو کلی دی. د کلي استوګن وګړي د شیرزاد په ښانګې پورې اړوند دي. دا کلی د «نیان روډ» [1] په ښۍ غاړه باندې ودان سوی دی او تقریباً د هغهٔ تنګي په خولې کې واقع دی چې له غرونو څخه اوبهٔ له همدې تـنګي څخه راوځي. دا سیمه په خپل ګاونډ کې ډېره محصوره ده او کرهنیز پټي چې په تراسونو کې جوړ سوي دي ډېـر تنګ او په ستوغې ډډې باندې راغلي دي او له یو بل څخه په ډېـر واټن جوړ سوي دي؛ ویالې ئـې چې ډېـرې دي د ځمکې په بـېلابـېلو سطوحو کې دي. د میوو ونې د اوبو د بهیرونو په دواړو غاړو کې په کرښو یاقطارونو کې شنې سوې دي؛ توت، زردآلود، ګیلاس، انار، ناک او تاکستانونه د دغو میوو عمده ډولونه دي. د کلي په ګاونډ کې د سرتـیرو د یوې کوچنۍ ډلې د کمپ وهلو لپاره ډېر ښـهٔ ځایونه سته چې لوړوالی ئـې ۵۰۰۰ فټه دی او د اوبو د بهیر په دواړو غاړو کې ګڼو ونو ښـهٔ سیوری جوړ کړی دی چې د لمر له تودوخې څخه یو مناسب پناه ځای کیدای سي. (جنکینز، ستیوارت) په دې نوم یو بل ځای په ۳۶ – ۳۲، ۳۸ – ۶۷ «ج» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

[1] -Nian Rud


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

**کوهیر کاریز**: [2]: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد په ولسوالي کې د جلال آباد د ختیځ په ۲/۱ – ۵ مایلی کې یو کلی دی.

دې کلي کې د تاجیکانو ۱۲۰ کورنۍ استوګنې دي چې (په ۱۹۰۴ز کال کې ئـې) ۲۰۰ غواګانې درلودلې. د کلي د غنمو او وربشو د کلني محصول منځنۍ اندازه ۱۸۰۰۰ هندي مونده ده. د دې کلي مالیه په جنس ده چې د حاصل د یو پر لسمي په نرخ ده. (ونلیس)

**کجو**: [3]: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د جلال آباد د سویل ختیځ په شاوخوا ۷ مایلی کې یو کلی دی. دا کلی د خپلو انارو په لرلو شهرت لري. دلته ډېـر سیکهان ژوند کوي او همدلته یو معبد هم لري. سره له دې چې دا ځای په دوبي کې تود دی خو د جلال آباد په پرتلې سوړ دی او له همدې کبله په ډېـرې تودې هوا کې دا ځای د پوځي قطعاتو د هوساینې لپاره غوره کـېـږي. (برنس)

**کلاله**: [4]: ۲۲ – ۳۴، ۵۰ – ۶۹ «ن»: دا د سرخ آب یوه ځانګه ده چې د سرخ پل د شمال په نېـږدې ۳ کې ورسره یو ځای کـېـږي. (ونلیس)

**قل علي**: دا د «جیرغه بهسود هزاره ګانو» [5] یوه قبـیلوي ځانګه ده.

**کولام**: [6]: ۹ – ۳۵، ۱۸ – ۷۰ «الف» دا الینګار د سیند یوه ځانګه ویل سوې ده.

ویل سوي چې په دې نوم د کافرانو یوه قبـیلـه ځلور کلي لري او شمـېـر ئـې تخمیناً ۳۰۰۰ تـنه ویل سوی دی. (رابرتسن اوسنۍ نقشې د «کولاتن دره» [7] نوم په ۲ – ۳۵، ۲۵ – ۷۰ «ن» کې ښیي. (لودویګ آدمک)

**کلنګار**: یا: **پل علم**: [8]: ۶ – ۳۴،۳ – ۶۹: کلنګار د لوګر د ولایت د یوهٔ کلي او د یوې ولسوالی نوم دی. دا ولسوالي ۱۰۵۶ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمـېـر ئـې د ۲۳۸۶۰ تر ۴۸۴۱۵ تنو تر منځ په بـېلابـېلو ډولونو اټکل سوی دی. دا ولسوالي له لویدیځ لوري له بره کي او چکِ وردک، له شمال لوري له محمد آغې، له ختیځ لوري له خوشي، له سویل ختیځ لوري له سید کرم او ګردیز او له سویل لویدیځ لوري له چرخ سره کرښه لري. کلنګار ۱۲۹ کلي لري چې یو دیرش کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالې مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بهرام خیل | | قلعـهٔ سفید | | پیادو خیل | Peyado Khel | ملا انعام | |
| میروال | Mirwal | قریـهٔ کاجي | Qarya -i -Kaji | قلعـهٔ بنادي خان | | منګو خیل | Mango Khel |
| راهٔ خوشي | Rah -i- Khoshi | قلعـهٔ شکر | Qala -i- Shakar | تاتور | Tator | پایي خیل | Paye Khel |
| قلعـهٔ موسی | | قلعـهٔ لیاس خان/ الیاس خان | | Qala -i -Leyas Khan | | هود خیل | Hud Khel |
| کتب خیل و مربوطات | | نیازي | | قلعـهٔ خواجه اکبر | | قلعـهٔ بوچه | Qala -i- Bocha |
| قلعـهٔ علیخان | | داؤود خیل | | قلعـهٔ سادات خان | | قلعـهٔ میرزا عبدالرحمن | |
| بابوس | Babus | قلعـهٔ سید حبیب الله | | قریـهٔ دَرَک | Qarya -i- Darak | قلعـهٔ میر علم | |

[2]-KUHIR KAREZ
[3]-KUJU
[4]-KUHIR KAREZ
[5]-Jirgha Besud Hazaras
[6]- KULAM : ددې نوم مخې تـهٔ په عربي الفبا «کولم» لیکلي دي خو زه ژباړونکی ئـې «کولام» سمه بڼه بولم. - ژ
[7] -Kulatan Dara
[8]-KULANGER Or PUL -I -ALAM


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| Abchakan | آبچکان | Hunai Sufla | هنیـهٔ سفلی | Khal Karez | خال کاریز | | شش قلعه |
| Deh -i- Mughulan | دِهٔ مغلان | | قلعـهٔ نو | Qala -i- Nakam | قلعـهٔ ناکام | Baydak | بیدک |
| Pad Khwab -i- Shana | | | پاد خوابِ شانه | | قلعـهٔ ابراهیم خان | | بخش آباد |
| | قلعـهٔ وزیر | Meyanur | میا نور | Qarya -i- Alozai | قریـهٔ الوزی | Seyah Koh | سیاه کوه |
| | قلعـهٔ احمد | | قلعـهٔ سید حسن | | قلعـهٔ رحمت الله خان | | قلعـهٔ ملک نور محمد |
| | قریـهٔ جویک | | دِهٔ کلنګار | | قلعـهٔ خواجه بابا | | قلعـهٔ سبزک |
| | پورک شاغاسي | | قلعـهٔ بنادي | | ملک | | قلَعـهٔ ملا عبدالله |
| Jawazar | جاوه زار | Altamur | التمور | Qala- i- Sarfi | قلعـهٔ صرفي | Purak Shaghasi | |
| | سید ها | Honi Saydan | هوني سیدان | Aspasit | اسپاست | Gharb Khel | غرب خیل |
| | قلعـهٔ احمد خان و عطاء | Qala -i -Mamai wa Doshanba | | | قلعـهٔ مامي و دوشنبه | | حصارک |
| | کمال خیل | | دوغ آباد | | قلعـهٔ سرِ سنګ | | قلعـهٔ زر داد |
| | مهاجر | | کنجک | | هارون خیل | Balut Khel | بلوط خیل |
| Qala -i- Hakim | | | قلعـهٔ حکیم/ حاکم | | قلعـهٔ عرب خان | | زرد ګل |
| Gadaye Khel -i- Qala- i - Ghaffar | | | ګدايي خیل قلعـهٔ غفار | | قلعـهٔ جمعه | | شاه حکیم |
| | قلعـهٔ قزل باش | | قلعـهٔ احمد شاه | | قلعـهٔ میر تقي شاه | Shuluk | شولوک |
| | قلعـهٔ داراب | | قلعـهٔ میر قادر شاه | | قلعـهٔ سید حسین | | قلعـهٔ میر صالح |
| | قلعـهٔ خواجه فضل احمد | | قلعـهٔ بابا خان | | قلعـهٔ حفیظ الله | | قلعـهٔ سید نور |
| | قلعـهٔ خیر الله | | قلعـهٔ تازه ګل | | قلعـهٔ سر خاک ها | | قلعـهٔ سلطان احمد |
| | قلعـهٔ طار | | قلعـهٔ سید احمد | | قلعـهٔ میر سید محمود | | قلعـهٔ عبدالله جان |
| | قلعـهٔ صابر | | قلعـهٔ میر سید حسن | | قلعـهٔ سردار | | قلعـهٔ میر الله |
| | قلعـهٔ ملک ایوب | | قلعـهٔ میرزا نور محمد | | قلعـهٔ بازګل | Qala -i- Mahand | قلعـهٔ مهند |
| | قلعـهٔ کوتـه ګی | | قلعـهٔ شیر جان | | قلعـهٔ شیر علي | | قلعـهٔ میر عظیم الله |
| | قلعـهٔ آخوند زاده | | قلعـهٔ حمید خان | Kodali | کودری | Qala -i- Kotagai | |
| | قلعـهٔ محمد سرور خان | Pas Ab | پس آب | | قلعـهٔ حاجي سید ګل | Kham -i- Hindu | خمِ هندو |
| | قلعـهٔ غلام میرک | | قلعـهٔ سخي داد | Deh Nau- i- Kulankar | دهٔ نو کلنکار | Qala -i- Nau -i- Kulankar | قلعـهٔ نو کلنګار |
| | قلعـهٔ عبدالعزیز | Deh Nau -i- Aminulmulk | | | دِهٔ نو امین الملک | | قلعـهٔ بشیر |
| | چووي | Ashinur | اشي نور | Kotad | کوتد | | قلعـهٔ جلال |
| | | Qater | | | قتر | Chuwi | |
| (لودویګ آدمک) | | | | | | | |

دا سیمه په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده:

دا د لوګر د ولسوالي په سویلي برخې کې یو لوی کلی دی چې د لوګر د سیند د کیڼي غاړې په اوږدو کې، او د سید آباد د سویل په شاوخوا ۱۸ مایلۍ کې واقع دی. (زاهد آباد) دا کلی څو نور یو بله جلا جلا په دیوالونو کې محصور کوچنې کلي لرې چې نیـږدې ۱۰۰۰ کورونه کیږي او په ټولو کې ئـې خواجه ګان «هزاره ګان»، تاجیکان او سیدان استوګن دي. په ۱۹۰۵ ز کال کې محمد رسول خان، ملاخیل، په قوم پوونده د کلنګار نائـب وو او د کلیو ملکان ئـې په دغو نومونو ول: ملا خواجه افضل، عبدالرسول، عباس او محمد رسول. د سیند د کیڼي غاړې په اوږد و کې یوه ښکلې مخ خلاصې دښته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ده چې د کمپ وهلو لپاره بې اندازه لویه ځمکه ورکوي او اوبـهٔ ئـې له سیند څخه دي؛ اړتیا توکي ئـې هم پریمانه دي. (آی. بي. سي)

**کـُـلمان**: [9]: دا په لغمان کې یو کلی دی. استوګن وګړي: کوهستانیان. (واربرتن)

**کلوج**: [10]: دا د «چهار دسته هزاره ګانو» [11] یوه ښانګه ده.

* **کـُـمارخیل**: [12]: ۱۸ – ۳۴، ۵۰ – ۶۹ «ن»: دا د ننګرهار د ولایت په لویدیځ کې د سرخاب د سیند د یوې ښانګې د غاړې په اوړدو کې یو کلی دی.

**کـُـمراخ**: [13]: ۳۹ – ۳۴، ۱۷ – ۶۶: دا یوه تـنګه دره ده چې اوبـهٔ ئـې په «کتلیش» [14] کې مخ پر شمال د «سر جنګل» [15] پر درې ورکوزېـږي.

**کـنـــي**: [16]: ۳۵ – ۳۴، ۴۰ – ۷۰ «الف»: دا کونړ د سیند د ښۍ غاړې په اوږدو کې یو کوچنی کلی دی چې له جلال آباد څخه شاوخوا ۱۸ مایله لیرې دی. دلته د سپارهٔ ځواک یوه رساله ځای پر ځای ده. (آی. بي. سي)

**کـنـــړ: کونـــړ**: دا د افغانستان په ختیځ کې یو ولایت دی چې له ۱۹۶۰ تر ۱۹۷۰ز کلونو راوروستو پورې د ننګرهار له ولایت سره مدغم سوی وو او د ننګرهار سویلي برخه جوړوي. کونړ په دغو ولسوالیو ویشل سوی دی:

<table>
<tr><td colspan="4">چغه سرای (پخوا د کونړ او اوس د اسعد آباد په نوم یادېـږي)</td><td colspan="4">بَر کونړ Bar Kunar ؛ پخوا د اسمار په نوم یادیدهٔ</td></tr>
<tr><td>پیچ</td><td>Pich</td><td colspan="2">ښوکۍ</td><td colspan="2">خاص کونړ</td><td colspan="2">سرکاني</td></tr>
<tr><td colspan="2">کامدیش</td><td colspan="2">برګ متال</td><td colspan="2">نرنج/ بدیل «نرنګ – ژ»</td><td colspan="2">Naranj/Badil</td></tr>
<tr><td>چپه دره</td><td>Chapadara</td><td>ناړۍ/ نرۍ</td><td>Narai</td><td>نورګل</td><td>Nur Gul</td><td>دانګام</td><td>Dangom</td></tr>
</table>

د دې ولسوالي د نقشې د کتلو لپاره وګورئ: ننګرهار. د ولسوالیو د لیست لپاره وګورئ: هغه شپېړ جدولونه چې د کرهنې او اوبو لګولو د وزارت د احصائیې ریاست چمتو کړی دی. (لودویګ آدمک) کونړ په ۱۹۱۴ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوی دی:

د کونړ د ولسوالي نوم د کونړ له درې څخه اخیستل سوی دی. د کونړ تر ختیځ او سویل ختیځ د «کابل څپر» [17] غرنۍ لړۍ، تر شمال لویدیځ ئـې د «کشموند» [18] غرنۍ لړۍ راتاو دي او لویدیځ کې ئـې لغمان او سویل کې ئـې جلال آباد واقع دي. دغه کرښې په ځیر سره نـهٔ تعریف سوې او په هغې نقشې کې د کونړ پخواني پادشاه (سید محمود) په ۱۸۹۲ز کال کې کښلې ده د کونړ د ولسوالي حدود (هماغسې د سید محمود پر مهال ول) د سیند پر غاړې یوازې د دې درې تېټ

9 - KULMAN
10 - KULUJ
11 - Chahar Dasta Hazaras
12 - KUMARKHEL
13 - KUMRAKH
14 - Katlish
15 - Sar -i-Jangal valley
16 - KUNAI
17 -Kabul Tsappar range
18 -Kashmund range


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مهمیزونه ول. بیا دا حدود ان تر چغه سرای پوري وغځول سول. د کونړ سیند د «در کوټ» [19] د کوتل په شمال ختیځ کي د هندوکش په سویل کي له یوۀ یخچال ځخه سر راپورته کوي. د کونړ سیند له خپلي سرچیني ځخه تر «مستوج» [20] پوري د «یرخون» [21] په نوم، بیا تر چتراله پوري د مستوج په نوم، بیا د اسمار تر شاوخوا پوري د «چترال یا کشکر» [22] په نوم او په پای کي د کونړ په نوم یادېږي. زموږ دا مقاله یوازي د دې سیند هغه برخه شرحه کوي چي ټوله یا قسماً په افغان خاوره کي بهېږي- یعني د «باشګل» [23] له خولي ځخه بیا جلال آباد ته نېږدې د کونړ – کابل د سیندونو د یو ځای کېدني تر ټکي پوري. په دغو حدودو کي د درې لوړوالی له ۳۰۰۰ تر ۱۹۰۰۰ فیټو پوري رسېږي.

لاندني شرحه چي ورکړل سوې ده د هغۀ راپور له مخي اخیستل سوې چي بریدمن ډبلیو کولدستریم. اچ. اي لیکلی دی، نوموړی بریدمن د افغان – باجوړ د سرحدي نښو د ټاکلو له کمیسیون سره په ۱۸۹۴ – ۱۸۹۵ز کال کي مل او ملګری وو.

له دې مخکي موږ د کونړ د درې په هکله ډېر لږ معلومات درلودل او داسي نـۀ ښکاري چي کوم انګلیس دې مخکي له دې په خپله له کونړ ځخه لیدنه کړې وي.

« د دې درې د شرحي په وړاندي کولو کي به ښه دا وي چي دا دره په دوه وو برخو کي په پام کي ونیسو، پورتـنی او کوزنی برخي چي د خپلو سرچینو او جوړښت له اړخه له یو بله د پام وړ توپیر لري. خو دا دواړه برخي له یو بل سره مدغمه کـېږي او په ډېر روښانه ډول سره نـۀ تعریف سوې. د دې درې استوګن وګړي د پورتـنی او کوزنی برخو اصطلاحات نـۀ کاروي.»

« «نرنګ» [24] له جلال آباده ځخه د سړک له لارې ۴۷ مایله لیرې واقع دی موږ کولای سوی نرنګ د کوزني او پورتـني یاد ویش ټکی وګڼو.»

«کوزنی دره: - د کوزنی درې عام ارتوالی د ۱/۲- ۱ مایل په اندازې د هموارې حاصلخیزې ځمکي ژۍ دي چي په منځ کي ئـي د هغو ټنګو ځایونو برخي وربانډې راغلي دي چي د سیند پر دواړو غاړو باندې ئـي د غرونو مهمیزونه راکوز سوي دي ؛ سیند په څو کانالونو کي بهېږي چي د سیند بستر په دواړو لوړو غاړو کي نـۀ محصور کـېږي. دره سویل لور ته ډېـره حاصلخیره او ګڼ - وګړې او ګڼ - استوګني سیمه ده، سړکونه ئـي ډېـر ښـۀ دي او ځمکي ئـي د اوبو لګولو په منظمو کانالونو او رجبو کي خړوبېږي. د سیمي عمومي ظاهر د جلال آباد یا د پـېښور د حاصلخیزې برخي په شان زرغون دی. ونې چي عمدتا د شین غزي وني دي، توت، چارمغز، چنار دي او د سړک پر غاړو ئـي بې شمـېـره کلي ودان سوي دي. د دې برخي استوګن وګړي په قوم صافیان دي؛ سره له دې چي ویل سوي دا سیمه په مني کي ډېـره تبه لري خو د سیمي خلک ئـي سالم او روغ رمټ او پرمخ تللي ښکاري. ( د کونړ د کوزنی برخي په هکله یوه بله شرحه داسي وایي: «کونړیان وریجي خوړونکي دي، چي ښکلي خیرې لري خو ښایي ډېـر غښتلي جنګیالیان نـۀ وي. یو کونړی یو اوږد کوټ اغوندي چي مخه ئـي په تـنیو تړل سوي وي، او لوی پرتوګ ئـي په ځان کي وي؛ کونړی خولی نـۀ پر سر

19-Darkot pass
20 -Mastuj
21-Yarkhun
22 -Chitral or Kashkar
23-Bashgul
24-Narang


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

کوي او په پښتو ژبې خبرې کوي.» په کونړ کې خلک په عام ډول وسله نـهٔ ګرځوي او په ګڼ وګړو کلیو کې د ښیرازۍ فضا خپره وي. د سیند د ښۍ غاړې په پرتلې په کینه غاړه کې ډېـر خلک استوګن نـهٔ دي، غرونه د سیند له نیم مایلۍ واټن څخه راپورته سوي دي نو ځکه د استوګنې لپاره ډېـر ځای ښایي ونـهٔ لري، په هغې غاړې کې کلیو ته راغلی عمومي لاره د سیند په ښۍ غاړه کې او د جالې له لارې ده.

«ویل سوي چې په ژمي کې په ځینو ځینو ځایونو کې په هغو ټکیو کې له سینده پورې غاړه اوښتل شوني دي چې سیند په څو کانالونو کې بهېـږي خو د ۱۸۹۴ ـ ۱۸۹۵ز کال د سرحدي تحدید کمیسیون کوم ګودر نـهٔ دی په نښه کړی او له موجودو ګودرونو څخه کیدای سي لږ استفاده وسي. دلته جالې بې شمـېـره دي چې په سیمه کې جوړ قایقونه او یا د خیګونو یا مشکونو پر سر ایښودل سوې دړې دي چې د کیبل په مرستې له سینده تـېـرېـږي. ویل سوي چې امیر (په ۱۹۰۷ز کال کې) د سیند پر سر پلونه جوړ وي.

| د کروندګرو وګړو او تر کښت لاندې د ځمکو اټکل | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | کلي | کروندګر وګړي | ځمکوال | تر کښت لاندې ځمکې په جریب | | | تر کښت لاندې ځمکه په هکتار | | |
| | | | | خړوبه | للمه | ټولټال | خړوبه | للمه | ټولټال |
| چغه سرای «کونړ اسعدا آباد» | ۲۴ | ۲۹۹۸۰ | ۲۹۱۰ | ۵۶۹۰ | ۲۵۸۰ | ۸۲۷۰ | ۱۱۳۸ | ۵۱۶ | ۱۶۵۴ |
| بر کونړ «اسمار» | ۲۳ | ۲۷۲۶۰ | ۲۶۹۵ | ۶۳۵۰ | ۵۵۰ | ۶۹۰۰ | ۱۲۷۰ | ۱۱۰ | ۱۳۸۰ |
| پیچ | ۲۵ | ۳۲۷۱۰ | ۳۶۰۴ | ۲۶۳۳۰ | ۳۹۰ | ۲۶۷۲۰ | ۵۲۶۶ | ۷۸ | ۵۳۴۴ |
| څوکۍ | ۲۶ | ۲۴۵۳۰ | ۳۵۴۵ | ۱۱۲۴۰ | ـ | ۱۱۲۴۰ | ۲۲۴۸ | ـ | ۲۲۴۸ |
| خاص کونړ | ۱۱ | ۱۲۰۷۰ | ۱۴۷۵ | ۱۸۸۰ | ۲۰ | ۱۹۰۰ | ۳۷۶ | ۴ | ۳۸۰ |
| سرکاڼۍ | ۱۱ | ۱۳۵۵۰ | ۱۶۶۰ | ۷۵۷۰ | ۱۵۹۰ | ۹۱۶۰ | ۱۵۱۴ | ۳۱۸ | ۱۸۳۲ |
| کام دیش | ۲۲ | ۲۱۸۱۰ | ۳۶۳۷ | ۱۰۶۲۰ | ۱۷۵۰ | ۱۲۳۷۰ | ۲۱۲۴ | ۳۵۰ | ۲۴۷۴ |
| برګ مټال | ۱۷ | ۸۱۸۰ | ۲۰۷۷ | ۱۷۸۰ | ۴۱۷۰ | ۵۹۵۰ | ۳۵۶ | ۸۳۴ | ۱۱۹۰ |
| نرنج/ بادیل | ۱۹ | ۱۶۳۵۰ | ۳۴۴۷ | ۵۹۹۰ | ۵۶۰ | ۶۵۵۰ | ۱۱۹۸ | ۱۱۲ | ۱۳۱۰ |
| چپه دره | ۳۳ | ۲۱۲۷۰ | ۱۹۶۰ | ۱۲۶۴۰ | ۵۳۰ | ۱۳۱۷۰ | ۲۵۲۸ | ۱۰۶ | ۲۶۳۴ |
| نرۍ | ۲۳ | ۱۳۶۳۰ | ۵۷۰ | ۸۲۸۰ | ۳۰۱۰ | ۱۱۲۹۰ | ۱۶۵۶ | ۶۰۲ | ۲۲۵۸ |
| نورګل | ۱۶ | ۲۸۹۸۰ | ۳۱۳۲ | ۱۴۲۴۰ | ۱۰۰ | ۱۴۳۴۰ | ۲۴۴۸ | ۲۰ | ۲۸۶۸ |
| دانګام | ۱۵ | ۱۰۹۰۰ | ۹۸۸ | ۳۹۶۰ | ۳۲۰ | ۴۲۸۰ | ۷۹۲ | ۶۴ | ۸۵۶ |
| ټولټال | ۲۶۵ | ۲۶۱۶۷۰ | ۳۰۷۰۰ | ۱۱۶۵۷۰ | ۱۵۵۷۰ | ۱۳۲۱۴۰ | ۲۳۳۱۴ | ۳۱۱۴ | ۲۶۴۲۸ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

| د مالداری احصائیوي اټکل د ولسوالي او علاقه داری پر بنسټ | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | پسونه | قره قل پسونه | وزې | غواګاني | ګاومیښي | اوښان | آسونه | خرونه | کچرې | چرګان |
| چغه سرای «کونړ اسعدا آباد» | ۲۳۴۱ | — | ۱۷۵۲ | ۵۷۷ | ۴۲۴ | ۷ | ۷ | ۱۱۶۶ | — | ۵۱۲ |
| بر کونړ «اسمار» | ۷۶۸۰ | — | ۱۴۴۴ | ۲۹۴۰ | ۳۲۶ | — | ۱ | ۱۷۳۰ | — | ۲۲۴۰ |
| پیچ | ۶۳۵۷ | — | ۸۷۱۰ | ۹۳۶۵ | — | ۳۲ | ۱۰۰ | ۱۲۵۱ | — | ۵۶۱۹ |
| څوکی | ۴۲۷۷ | — | ۸۵۷۰ | ۸۶۳۵ | ۳۴۵ | ۳ | ۴۰ | ۱۱۶۴ | — | ۷۳۱۴ |
| خاص کونړ | ۱۱۰۵ | — | — | ۲۶۸۰ | ۵۰۷ | — | — | ۱۴۴۰ | — | ۹۴۰ |
| سرکانی | ۱۸۰۷ | — | ۲۰۷۵ | ۲۰۰۵ | ۳۷۱ | — | — | ۱۱۲۱ | — | ۱۹۱۲ |
| کام دیش | ۶۲۰۵ | — | ۳۳۹۶۰ | ۵۳۶۰ | — | — | ۱۶۴ | ۱۸۳۵ | — | ۱۱۱۳۰ |
| برګ متال | ۱۵۵۹۰ | — | ۴۶۱۰ | ۳۲۱۰ | — | — | ۵۷۰ | ۱۹۱۰ | — | ۳۶۴۰ |
| نرنج/ بادیل | ۳۰۰۰ | — | ۳۵۷۵ | ۳۳۲۵ | ۵۱۰ | — | ۳۵ | ۱۱۹۲ | — | ۴۶۰۵ |
| چپه دره | ۵۶۱۷ | — | ۵۵۰۶ | ۵۳۱۱ | — | ۴ | ۸۰ | ۱۱۶۲ | — | ۷۱۵۸ |
| نری | ۳۶۱۰ | — | ۱۳۵۸۵ | ۴۵۲۲ | — | — | ۵۲ | ۱۶۹۰ | — | ۳۲۵۹ |
| نورګل | ۳۹۵۰ | — | ۳۸۰۰ | ۸۲۹۰ | ۳۲۷ | ۳۰ | ۵۸ | ۱۱۲۸ | — | ۵۷۴۱ |
| دانګام | ۴۳۳۱ | — | ۴۷۰۳ | ۴۲۳۰ | — | ۶۴ | ۸۳ | ۱۴۱ | — | ۲۵۴۰ |
| ټولټال | ۶۵۸۷۰ | — | ۹۲۲۹۰ | ۶۰۴۵۰ | ۲۸۱۰ | ۱۴۰ | ۱۱۹۰ | ۱۶۹۳۰ | — | ۵۶۶۱۰ |

| کرنیز محصولات په کابلي جریب | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | غلات | | ټولټال | سابـه | نور محصولات | | میوې |
| | خروبه | للمه | | | صنعتي محصولات | نور مؤقت محصولات | |
| چغه سرای «کونړ اسعدا آباد» | ۲۶۷۲۰۰ | ۱۲۴۸۰ | ۲۷۹۶۸۰ | ۷۲۰۰۰ | ۸۷۶۷۰ | ۴۴۰۰۰ | ۱۱۴۴۰۰ |
| بر کونړ «اسمار» | ۳۰۳۶۰۰ | ۲۷۶۰ | ۳۰۶۳۶۰ | ۱۶۴۲۵۰ | ۳۴۰۹۰۰ | ۲۲۰۰۰ | ۶۳۳۶۰ |
| پیچ | ۱۲۹۵۲۰۰ | ۲۰۴۰ | ۱۲۹۷۲۴۰ | ۳۳۰۷۵۰ | ۴۸۹۱۰ | ۴۴۰۰۰ | ۲۵۳۴۴۰ |
| څوکی | ۵۱۱۶۰۰ | — | ۵۱۱۶۰۰ | ۱۳۹۵۰۰ | ۴۴۸۱۵۰ | ۱۱۰۰۰ | ۲۱۱۲۰۰ |
| خاص کونړ | ۹۰۸۰۰ | ۱۲۰ | ۹۰۹۲۰ | ۲۲۵۰۰ | ۲۴۳۵۰ | ۳۳۰۰۰ | ۳۶۹۶۰ |
| سرکانی | ۳۵۰۴۰۰ | ۷۸۰۰ | ۳۵۸۲۰۰ | ۱۹۱۲۵۰ | ۴۸۷۱۰ | ۱۳۲۰۰ | ۷۵۶۸۰ |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کام دیش | ۵۱۶۰۰۰ | ۱۴۶۴۰ | ۵۳۰۶۴۰ | ۱۳۲۷۵۰ | — | ۳۳۰۰۰ | ۱۰۷۳۶۰ |
| برگ متال | ۸۶۴۰۰ | ۲۰۰۴۰ | ۱۰۶۴۴۰ | ۲۲۵۰۰ | — | ۱۵۴۰۰ | ۴۵۷۶۰ |
| نرنج/ بادیل | ۲۸۳۲۰۰ | ۲۸۸۰ | ۲۸۶۰۸۰ | ۷۶۵۰۰ | — | ۸۸۰۰ | ۱۱۷۹۲۰ |
| چپه دره | ۵۹۵۶۰۰ | ۲۷۶۰ | ۵۹۸۳۶۰ | ۱۵۹۷۵۰ | — | ۲۸۶۰۰ | ۲۴۸۱۶۰ |
| نری | ۶۱۲۰۰ | ۲۴۴۸۰ | ۸۵۶۸۰ | ۱۸۰۰۰ | — | ۱۱۰۰۰ | ۳۶۹۶۰ |
| نورگل | ۶۶۳۲۰۰ | ۸۴۰ | ۶۶۴۰۴۰ | ۱۸۰۰۰۰ | ۷۳۱۵۰ | ۵۵۰۰۰ | ۲۷۴۵۶۰ |
| دانگام | ۱۹۵۶۰۰ | ۱۵۶۰ | ۱۹۷۱۶۰ | ۴۷۲۵۰ | — | ۱۱۰۰۰ | ۴۰۴۸۰ |
| تولټال | ۵۲۲۰۰۰۰ | ۹۲۴۰۰ | ۵۳۱۲۴۰۰ | ۱۵۵۷۰۰۰ | ۱۰۷۱۸۴۰ | ۳۳۰۰۰۰ | ۱۶۲۶۲۴۰ |

| ترکیبت لاندې ځمکې او د اوبو لګولو سرچینې ئې | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ولسوالي | ساحه په جریب | | | | تولټال | د سرچینو شمېر | | | | د اوبو ژرندې |
| | نهرونه | چیني | کاریزونه | څاهان | | نهرونه | چیني | کاریزونه | څاهان | |
| چغه سرای «کونړ» اسعدآباد» | ۵۶۹۰ | — | — | — | ۵۶۹۰ | ۱۵ | ۵ | — | — | ۳۳ |
| بر کونړ «اسمار» | ۶۳۴۶ | — | — | ۴ | ۶۳۵۰ | ۱۱ | — | — | ۳ | ۳۵ |
| پیچ | ۲۶۳۳۰ | — | — | — | ۲۶۳۳۰ | ۲۶ | ۸ | — | — | ۸۱ |
| څوکی | ۷۶۳۰ | ۳۵۹۰ | — | ۲۰ | ۱۱۲۴۰ | ۲۶ | ۱۲ | — | ۴ | ۵۲ |
| خاص کونړ | ۱۸۷۵ | — | — | ۵ | ۱۸۸۰ | ۵ | ۲ | — | ۲ | ۲۵ |
| سرکانی | ۷۵۷۰ | — | — | — | ۷۵۷۰ | ۱۱ | ۵ | — | ۲ | ۱۵ |
| کام دیش | ۱۰۶۲۰ | — | — | — | ۱۰۶۲۰ | ۱۶ | ۱۳ | — | — | ۱۱۱ |
| برگ متال | ۱۷۸۰ | — | — | — | ۱۷۸۰ | ۱۰ | ۵ | — | — | ۳۴ |
| نرنج/ بادیل | ۵۹۹۰ | — | — | — | ۵۹۹۰ | ۱۹ | ۲ | — | — | ۳۵ |
| چپه دره | ۱۲۶۴۰ | — | — | — | ۱۲۶۴۰ | ۳۲ | — | — | — | ۵۸ |
| نری | ۸۲۸۰ | — | — | — | ۸۲۸۰ | ۲۱ | — | — | — | ۳۷ |
| نورگل | ۱۴۲۴۰ | — | — | — | ۱۴۲۴۰ | ۱۶ | ۶ | — | — | ۷۶ |
| دانگام | ۳۹۵۹ | — | — | ۱ | ۳۹۶۰ | ۱۵ | ۹ | — | ۲ | ۸۹ |
| تولټال | ۱۱۲۹۵۰ | ۳۵۹۰ | — | ۳۰ | ۱۱۶۵۷۰ | ۲۲۳ | ۶۷ | — | ۱۳ | ۶۸۱ |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| ولسوالي | غلات | | ټولټال | سابـهٔ | صنعتي محصولات | نور محصولات | میوې | د کرل سوې ځمکې ټولټال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | خړوبه | للمه | | | | | | |
| چغه سرای «کونړ اسعدا آباد» | ۶۶۸۰ | ۱۰۴۰ | ۷۷۲۰ | ۳۲۰ | ۱۸۰ | ۲۰۰ | ۶۵۰ | ۹۰۷۰ |
| بر کونړ «اسمار» | ۷۵۹۰ | ۲۳۰ | ۷۸۲۰ | ۷۳۰ | ۷۰۰ | ۱۰۰ | ۳۶۰ | ۹۷۱۰ |
| پیچ | ۳۲۳۸۰ | ۱۷۰ | ۳۲۵۵۰ | ۱۴۷۰ | ۱۰۰ | ۲۰۰ | ۱۴۴۰ | ۳۵۷۶۰ |
| څوکۍ | ۱۲۷۹۰ | — | ۱۲۷۹۰ | ۶۲۰ | ۹۲۰ | ۵۰ | ۱۲۰۰ | ۱۵۵۸۰ |
| خاص کونړ | ۲۲۷۰ | ۱۰ | ۲۲۸۰ | ۱۰۰ | ۵۰ | ۱۵۰ | ۲۱۰ | ۲۹۷۰ |
| سرکانۍ | ۸۷۶۰ | ۶۵۰ | ۹۴۱۰ | ۸۵۰ | ۱۰۰ | ۶۰ | ۴۳۰ | ۱۰۸۵۰ |
| کام دیش | ۱۲۹۰۰ | ۱۲۲۰ | ۱۴۱۲۰ | ۵۹۰ | — | ۱۵۰ | ۶۱۰ | ۱۵۴۷۰ |
| برگ متال | ۲۱۶۰ | ۱۶۷۰ | ۳۸۳۰ | ۱۰۰ | — | ۷۰ | ۲۶۰ | ۴۲۶۰ |
| نرنج/ بادیل | ۷۰۸۰ | ۲۴۰ | ۷۳۲۰ | ۳۴۰ | — | ۴۰ | ۶۷۰ | ۸۳۷۰ |
| چپه دره | ۱۴۸۹۰ | ۲۳۰ | ۱۵۱۲۰ | ۷۱۰ | — | ۱۳۰ | ۱۴۱۰ | ۱۷۳۷۰ |
| نرۍ | ۱۵۳۰ | ۲۰۴۰ | ۳۵۷۰ | ۸۰ | — | ۵۰ | ۲۱۰ | ۳۹۱۰ |
| نورگل | ۱۶۵۸۰ | ۷۰ | ۱۶۶۵۰ | ۸۰۰ | ۱۵۰ | ۲۵۰ | ۱۵۶۰ | ۱۹۴۱۰ |
| دانگام | ۴۸۹۰ | ۱۳۰ | ۵۰۲۰ | ۲۱۰ | — | ۵۰ | ۲۳۰ | ۵۵۱۰ |
| ټولټال | ۱۳۵۰۰ | ۷۷۰۰ | ۱۳۸۲۰۰ | ۶۹۲۰ | ۲۲۰۰ | ۱۵۰۰ | ۹۲۴۰ | ۱۵۸۰۶۰ |

د کښت وړ ځمکه، د محصول پر بنسټ په کابلي جریب

| ولسوالي | ټولټال | پووندې | ځنګلونه | تر کښت لاندې | هغه ځمکې چې یو کال کرل کـېـږي یو کال نـهٔ |
|---|---|---|---|---|---|
| چغه سرای «کونړ اسعدا آباد» | ۸۴۴۵۰ | ۲۸۶۰ | ۷۳۳۲۰ | ۸۲۷۰ | ۲۸۱۰ |
| بر کونړ «اسمار» | ۷۲۹۱۳۰ | ۲۰۹۸۰ | ۷۰۱۲۵۰ | ۶۹۰۰ | ۱۵۳۰ |
| پیچ | ۴۵۷۰۰ | ۱۵۴۹۰ | ۳۴۹۰ | ۲۶۷۲۰ | ۵۷۸۰ |
| څوکۍ | ۶۸۰۴۰ | ۵۲۴۹۰ | ۴۳۱۰ | ۱۱۲۴۰ | ۲۶۶۰ |
| خاص کونړ | ۵۹۲۰ | ۱۵۷۰ | ۲۴۵۰ | ۱۹۰۰ | ۳۹۰ |
| سرکانۍ | ۲۱۱۷۰ | ۱۰۱۶۰ | ۱۸۵۰ | ۹۱۶۰ | ۲۶۷۰ |
| کام دیش | ۵۵۱۰۰۰ | ۷۳۹۰ | ۵۳۱۲۴۰ | ۱۲۳۷۰ | ۲۶۹۰ |

د کښت وړ ځمکې ټولټال په کابلي جریب


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **برگ متیال** | ۱۷۳۴۴۰ | ۱۸۵۶۰ | ۱۴۸۹۳۰ | ۵۹۵۰ | ۳۰۶۰ |
| **نرنج/ بادیل** | ۲۷۲۳۰ | ۱۸۱۹۰ | ۲۴۹۰ | ۶۵۵۰ | ۱۵۶۰ |
| **چپه دره** | ۳۸۲۴۰ | ۲۲۴۸۰ | ۲۵۹۰ | ۱۳۱۷۰ | ۲۸۹۰ |
| **نری** | ۶۶۴۶۰ | ۱۲۱۹۰ | ۴۲۹۸۰ | ۱۱۲۹۰ | ۸۷۰ |
| **نورگل** | ۶۰۳۱۰ | ۲۰۴۹۰ | ۲۵۴۸۰ | ۱۴۳۴۰ | ۳۰۶۰ |
| **دانگام** | ۷۴۳۵۰ | ۶۸۴۵۰ | ۱۶۲۰ | ۴۲۸۰ | ۱۰۴۰ |
| **تولټال** | ۱۹۴۵۴۴۰ | ۲۷۱۳۰۰ | ۱۵۴۲۰۰۰ | ۱۳۲۱۴۰ | ۳۱۰۱۰ |

«د درې هغه ځایونه چې غرنیو مهمیزونو بند کړي دي او د سیند پر دواړو غاړو راکوز سوي دي درې ته د تیټي درې بڼه ورکوي. دغه ځایونه په حقیقت کې ښـهٔ دفاعي موقعیتونه دي او د سیند په دواړو غاړو کې په کوزې ځمکې باندې مسلط دي. په هغو ټکیو کې چې سړک له هغو ځایونو څخه تـېـرېـږي چې مهمیزونو بند کړي دي په هر ټکي کې تل یوه پوسته ځای پر ځای ده ؛ په هرې پوستي کې ۹ تنه افغان سرتـیـري ځای پر ځای وي.»

« **په دې موقعیت کې عمده کلي دا دي:** له جلال آباده یو مارش لیرې د «شیګل» او د «ښیوې» [25] د کلیو ډلې چې په حاصلخیزې دښتي کې ودان دي؛ د ,,نور ګل,, دوه یا درې کلي (له جلال آباده ۲۶ مایله لیرې)؛ د څوکی کلي (له جلال آباده ۳۷ مایله لیرې)؛ د کونړ د سیند د کیڼي غاړې په اوږدو کې د کونړ کلي (له جلال آباده ۳۲ مایله لیرې)، د «کوټ کې» او «نرن» [26] کلي (له جلال آباده ۴۳--- ۴۷ مایله لیرې)؛ او د سیند په کیڼه غاره کې د «پـَـشــَـت» [27] زوړ ښارګوټی له سلطنتي استوګنځي سره یوځای. پورته ویل سویو ځایونه د سیند په ښی غاړې کې موقعیت لري او که کوم ځای د سیند په کیڼې غاړې وي د هغهٔ یادونه سوې ده.»

«هغه غرونه چې د درې په شمال لویدیځې برخې پورې راتاو دي د «کشمونډ» [28] د غرنۍ لړۍ په نامهٔ پـېـژندل کـېـږي چې تر ۱۴۰۰۰ فیټو پورې لوړ تللي دي او له ځانه یو ډېـر شډل او ډېرین ظاهر ځرګندوي؛ د دې غرنۍ لړۍ سرونه د کال ډېـرې برخه په واورو پوښلي وي د غرنۍ لړۍ لوړې ډډې د سپیدار او د څیړې یا بلوطو په ځنګلونو پوښلي دي. په تـنګو درو کې چې د غرنۍ لړۍ په دننه ننوتلو ځایونو یا چاودو کې ئـې نفوذ کړی دی ویل سوي چې بې شمـېـره کلي او کرهنیز پټي دي.»

## نور بیا

**«د مهمند غرونه "چې د «کابل څـېـر» په نوم یادېږي**

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، درېم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.

[25]-Shigal and Shewa
[26]-Kotkai and Naran villages
[27] -old town of Pashat
[28]-Kashmund range


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ